
## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

# ديني مالومات








Ketabton.com

چمتوکوونکی : تېمورشاه یوسفزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمتوکوونکی

تیمورشاه یوسفزی – هرات

## منابع

شراقي ، عبدالرحيم – بنک المعلومات

پښتونګار ، ايمل – د قران کريم اړوند پوښتني او ځوابونه – سپوږمۍ ويب پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی رسوله الکریم .

امابعد :

په هره ټولنه کي دماشوم يوځا نګړی اهميت دی چي اسلام بياورته يو بېل مقا م غوره کړی دی،دايوداسي مقام دی چي دمشر،کشر، نراو ښځي دټولودرنښت ته پکي پا م سوی اوبالاخره يې دده په اړه يوداسي حکم صادرکړی چي په رښتيا هم دده لپاره يوستر امتيازدی،که يو ماشوم همداسي وروزل شي لکه څرنګه چي يې اسلام ښوونه کوي نو داسلامي ټولني هرماشوم به په راتلوونکي کي دنورو لپاره يوه نښه وي،دماشومانو دتربيت په اړه درسول الله صلی الله عليه وسلم حديث دی :

عن عمروبن شعيب عن ابيه عن جده قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم مروااولادکم بالصلوة وهم ابناء سبع سنين واضربوهم عليهاوهم ابناء،عشرسنين وفرقوابينهم فی المضاجع .

(رواه ابوداؤد ،مشکوة۱ / ۵۸ )

ژباړه : عمروبن شعيب له خپل پلاره هغه دده له نيکه نه روايت کړی دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل : خپلوماشومانوته په اووه کلنۍ کي دلمانځه کولوامرکوئ،پرلس کلنۍ يې دلمانځه پرنه کولو وهئ اوبستري يې ورجلاکړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې حديث څخه څرګنده سوه چې په اسلام کې دماشوما نوروزني ته بشپړه پاملرنه سوې اودهغوی دعمرپه لحاظ ورته امرونه سوي .
دلته داخبره هم په ډاګه سوه چې ماشوم ته بايد له لومړي سره داسلام احکا م وروښودل سي اوعملاًپرې اجراسي،څو ماشوم ورو ورو ورسره عادي سي اوپه راتلوونکي کي يو باصالح اوغوره مسلمان وي . د همدې هدف دترسره کولو په تکل داکتاب پښتو ژبي ته راژ باړل سوی څوپښتني ماشومان داسلام له لومړياتوخبرسي اوپه راتلوونکي کي دخپلومسلمانو اسلافولاره تعقيب کړي .
هيله ده چې زموږدټولني غړي خپل ماشومان له سره په همداسي ډول وروزي،ددې لپاره اړينه ده چې په خپله ژ به کي داډول کتابونه وليکل سي،راوژ باړل سي اوخپاره سي ، يوسفزي صاحب ته دي لوی الله جل جلاله خير ورکړي چې دې اړخ ته يې پاملرنه کړې اودما شوما نودپو هاوي لپاره يې داکتاب ترجمه کړی الله جل جلاله دي اجرورکړي اوهيله لرم چې خپلوداډول هڅوته نوردوام هم ورکړي .

ستاسوکشرورورمحمدوصيل "پېروز"

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دماشومانو او تنکيوځوانانو لپاره – ديني مالومات

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي ژمی او دوبی څو ځله ذکرسوی دی ؟

**ځواب** : يو ځل.

**پوښتنه** : په کوم سورت کي ؟

**ځواب** : دقريش په سورت کي.

**پوښتنه** : ( عَبَسَ وَتَوَلَّىٰ ) دکوم صحابي رضی الله عنه په هکله دی ؟

**ځواب** : دعبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه په اړه .

**پوښتنه** : هغه کومه شپه ده چي عبادت يې له زرومياشتو ســـره برابر دی؟

**ځواب** : دقدر شپه.

**پوښتنه** : د قرآن کريم دتلاوت پرمهال زمونږ وظيفه څه ده ؟

**ځواب** : استماع او سکوت ( غوږنيول او چوپ کښېنستل ).

**پوښتنه** : ام القری دکوم ښار لقب دی؟

**ځوا ب**: دمکې مکرمې.

**پوښتنه** : دمحمدصلی الله عليه وسلم ترټولو ستره معجزه څه ده؟

**ځواب** : قرآن کريم.

**پوښتنه** : دقرآن کريم دوروستي سورت نوم څه دی؟

**ځواب** : (الناس).

**پوښتنه** : لومړی کوم آيت نازل سو ؟

**ځواب** : (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ )( دعلق سوره )

**پوښتنه** : د(تبارک الذی) لومړنی سورت په څه نوم ياديږي؟

**ځواب** : الملک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : د(تبارک الذی) وروستی سورت په څه نوم یادیږي؟
**ځواب** : د(المرسلات) په نوم.
**پوښتنه** : دقران کریم ترټول لوی سورت کوم یو دی؟
**ځواب** : دبقرې سورت .
**پوښتنه** : دقران کریم ترټولو کوچنی سورت کوم یو دی؟
**ځواب** : دکوثر سورت.
**پوښتنه** : هغه سورت چي ددو مېوو په نوم پیلیږي کوم دی؟
**ځواب** : دتین سوره (چي دانځر او زیتون په نامه پیلیږي. )
**پوښتنه** : کوم سورت ددوو پیغمبرانو په نومونو پای ته رسیږي؟
**ځواب**: داعلی سورت ( چي ابراهیم اوموسی علیهماالسلام په نومونو پای ته رسیږي. )
**پوښتنه** : (آیة الکرسی ) په کومه سورت کي ده؟
**ځواب** : په سورة البقره کي.
**پوښتنه** : دقرآن کریم دوروستۍ پارې لومړی سورت څه نومیږي؟
**ځواب** : النباء.
**پوښتنه** : قرآن کریم څوټوټې (پارې) دی؟
**ځواب** : دېرش (۳۰) ټوکه (پارې ) .
**پوښتنه**: هغه ســـورت چي فضیلت یې دقرآن کریم له څلورمې (ربعې ) سره برابردی څه نومیږي؟
**ځواب**: الکافرون .
**پوښتنه**: هغه سورت څه نومیږي چي فضیلت یې د قرآن کریم له دریېمي سره برابردی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب** : اخلاص ( قل هو الله ) .

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي تر ټولو لوی آيت کوم دی؟

**ځواب** : په سورت بقره کي د الدين په نوم ۲۸۲ آيت.

**پوښتنه** : جنت څو دروازې لري؟

**ځواب** : اته (۸ ) دروازې.

**پوښتنه** : هغه څلور(۴ ) پوښتني چي دقيامت په ورځ له انسان څخه کيږي کومي دي؟

**ځواب** :

۱:- عمر (وخت ) : چي خپل عمر يې څنګه تېر کړی دی؟

۲:- علم (پوهه ) : دعلم پوښتنه ده چي څومره عمل يې پرې کړی؟

۳:- مال (شتمني ) : دانسان دمال په هکله پوښتنه کيږي، چي څنګه يې لاس ته راوړي او په څه ډول يې مصرف کړي دي؟

۴:- د انسا ن دجسم او ځان په هکله پوښتنه کيږي.

**پوښتنه** : په نبوي مسجد کي لمونځ کول څومره ثواب لري؟

**ځواب** : په نبوي مسجد کي دلمانځه کول ترنورومجسدونو ۱۰۰۰ برابره ثواب لري .

**پوښتنه** : هغه سورت چي د تلاوت کوونکي شفاعت کوي کوم دی؟

**ځواب** : الملک .

**پوښتنه**: د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم دنيکه ( عبد المطلب ) تر وفات وروسته چا دهغه سرپرستي پر غاړه واخيسته؟

**ځواب** : دهغه اکا ابو طالب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : جبرائيل عليه االسلام و رسول اكرم صلى الله عليه وسلم ته كوم الفاظ وويل ؟

**ځواب** : اِقْرَاْ (ووايه ).

**پوښتنه** : پيغمبر صلى الله عليه وسلم په ځواب كي څه ورته وويل؟

**ځواب** : ويې ويل: مَاآنَابِقَارِءٍ (ياني زه لوستونكى نه يم.)

**پوښتنه** : دفيل په كال ترټولو مهمه پېښه كومه وه؟

**ځواب** : دمحمد صلى الله عليه وسلم زوكړه.

**پوښتنه** : مسلمانان لومړى كوم هيواد ته مهاجِر سول؟

**ځواب** : حبشې او سنۍ اتوپياته.

**پوښتنه** : محمد صلى الله عليه وسلم ترهجرت وروسته څوځلـه حـــج وكړ؟

**ځواب** : يوځل.

**پوښتنه** : له مكې څخه مدينې ته دهجرت پرمهال رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په كوم غاركي پناه اخيتسې وه؟

**ځواب** : دثور په غاركي.

**پوښتنه** : جبرئيل (عليه السلام) په كال كي څوځله پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته قرآن كريم تكرارراوى؟

**ځواب** : په كال كي يو ځل او هغه هم دروژې په مياشت كـــي خودرسول الله صلى الله عليه وسلم دوفات په كال يې دوه ځله تكراركړ.

**پوښتنه** : حجة الوداع په كوم كال كي و ؟

**ځواب** : دهجرت په لسم كال كي.

**پوښتنه** : د ابو هريره رضى الله عنه نوم څه دى؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب** : عبدالرحمن بن صخرالدوسي.
**پوښتنه** : صديق دچالقب دی؟
**ځواب** : دلومړي خليفه ابوبکررضی الله عنه.
**پوښتنه** : ترجمان القرآن دکوم صحابي رضی الله عنه لقب وو ؟
**ځواب** : دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما.
**پوښتنه** : امين الامة دکوم صحابي رضی الله عنه لقب وو ؟
**ځواب** : دابوعبيده عامربن الجراح رضی الله عنه.
**پوښتنه**: موذن رسول الله دچالقب دی؟
**ځواب** : دبلال بن رباح رضی الله عنه.
**پوښتنه** : (حواری الرسول) دچالقب دی؟
**ځواب** : دزبيربن العوام رضی الله عنه.
**پوښتنه** : ذی الجناحين دچا لقب دی؟
**ځوا ب** : دجعفر بن ابي طالب رضی الله – جعفرطيار.
**پوښتنه** : ذی النورين دچا لقب دی؟
**ځواب** :ددريم خليفه عثمان بن عفان رضی الله عنه.
**پوښتنه** : سيف الله المسلول دچالقب دی؟
**ځواب** : دخالدبن وليدرضی الله عنه.
**پوښتنه** : فاروق دچالقب دی؟
**ځواب** : ددويم خليفه عمربن الخطاب رضی الله عنه.
**پوښتنه** : له کوم صحابه څخه ملائکو شرم اوحيادرلوده؟
**ځواب** :له عثمان بن عفان رضی الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : داحزاب په غزاکي خندق دکوم صحابي په مشوره وکیندل سو ؟

**ځواب** : دسلمان فارسي رضی الله عنه په مشوره .

**پوښتنه** : په سړوکي لومړی څوک مسلمان سو ؟

**ځواب** : ابوبکر صدیق رضی الله عنه .

**پوښتنه** : لومړی کومه ښځه مسلمانه سوه ؟

**ځواب** : ام المؤمنین خدیجه بنت خویلد رضی الله عنها .

**پوښتنه** : درسول اکرم صلی الله علیه وسلم لومړۍ مېرمن څوک وه ؟

**ځواب** : خدیجه بنت خویلد رضی الله عنها .

**پوښتنه** : حمزه رضی الله عنه په کومه غزاکي شهید سو ؟

**ځواب** : داحد په غزاکي .

**پوښتنه** : دبدن زکات څه شی دی ؟

**ځواب** : روژه .

**پوښتنه** : د فجر په سورت کي د(لیال عشر ) هدف څه دی ؟

**ځواب** : دذی الحجې لومړۍ لس شپې .

**پوښتنه** : په قرآن کریم کوم درې نفسونه ذکرسوي دي ؟

**ځواب** :

۱:- نفس اماره

۲:- نفس لوامه

۳:- نفس مطمئنه

**پوښتنه** : د (الله ) لفظ په قران شریف کي څوځله راغلی دی ؟

**ځواب** : ۹۸۰ ځله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : کوم رسول دالله جل جلاله په امر بې پلاره له مورڅخه وزېږېد ؟

**ځواب** :- عيسی بن مريم عليه السلام.

**پوښتنه** : کوم رسول دالله جل جلاله په امربې پلاره او موره وزېږېد ؟

**ځواب** : آدم عليه السلام.

**پوښتنه** : دانبياؤاورسولانو تعداد څودی؟

**ځواب** : ۱۲۴۰۰۰ زره چي ۳۱۵ يکي رسولان دي.

**پوښتنه** : دمحمدصلی الله عليه وسلم دآسونونومونه کوم دي؟

**ځواب** : السکب،ملاح،المرتجز،اللحيف،الظرب،العزاز اوالورد .

**پوښتنه** : دمعراج پـــه شپـــه رسول اکرم صلی الله عليه وسلم پرکوم حيوان سپور سو ؟

**ځواب** : پربراق.

**پوښتنه** : هغه صحابي چي عمربې ترټولولږوواودبدرپه غزاکي شهيد سوڅه نومېدی؟

**ځواب** : عمربن ابی وقاص چي (۱۲) کلن وو.

**پوښتنه** : په شپه اوورځ کي پرمسلمانانوټول څولمنځونه فرض دي؟

**ځواب** : پنځه لمونځونه .

**پوښتنه** : دسهارفرض لمونځ څورکعته دي؟

**ځواب** : دوه رکعته.

**پوښتنه** : کعبه مبارکه څومتره لوړه ده؟

**ځواب** : ۱۵ متره.

**پوښتنه** : تشناب ته دننوتلودعاء کومه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: بسم الله ، **اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِث**.

پوښتنه: له تشناب څخه د وتلو دعاء کومه ده؟

**ځواب**: **غُفْرَانَکَ اَلْحَمْدُللّٰه الّذِي اَذْهَبَ عَنِّىَ الْاَذَاوَعَافَانِيْ** .

**پوښتنه** : د کومي عمرې ثواب له حج سره برابر دی؟

**ځواب** : هغه عمره چي د روژې په مبارکه مياشت کي ادا سي.

**پوښتنه** : کوم مسجد دوې قبلې لري؟

**ځواب** : د مدينې منورې مسجد .

**پوښتنه** : د دوزخ دربان څه نومېږي؟

**ځواب** : مالک.

**پوښتنه** : د جنت د خزانه دارنوم څه دی؟

**ځواب** : رضوان.

**پوښتنه** : هغه دوې کليمې چي پرژبه سپکي او په تله کي درنې دي کومي دي؟

**ځواب** : **سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِه سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيم** .

**پوښتنه** : چاته به د قيامت په ورځ داورکيزه وراچول سوې وي؟

**ځواب** : هغه چاته چي خپل علم يې پټ ساتلی وي.

**پوښتنه** : نوح عليه السلام څوکاله خپــل قوم د الله جــل جلاله خواته دعوت کړ.

**ځواب** : ۹۵۰ کاله.

**پوښتنه** : د آفريقا په لويه وچه کي ترټولو لوی مسجد په کوم ځای کي دی؟

**ځواب** : په کوناکري کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : د څلورويشتو ساعتونو (ديوې شپې او ورځې په جريان کي ) ټول څو رکعته لمونځ فرض دی؟

**ځواب** : اوولس رکعته .

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دکوم رسول ذکر ډېره يادونه سوې ده؟

**ځواب** : دموسی عليه السلام .

**پوښتنه** : پر منافقينو کوم لمونځ ډېر درونددوو ؟

**ځواب** : د سهار او ماخوستن لمنځونه.

**پوښتنه** : د مسلمانانو دلښکر مشر (اسامه بن زيد ) څو کلن وو ؟

**ځواب** : ۱۷ کلن.

**پوښتنه** : آدم عليه السلام په کومه ورځ جنت ته ننووت ؟

**ځواب** : دجمعې په ورځ.

**پوښتنه** : که کومه ستونزه رامنځ ته سي کومه دعا به وايو ؟

**ځواب** : اَللّٰهُمَّ لَاسَهْلَ اِلَّامَاجَعَلْتَهُ سَهْلاًوَّاَنْتَ اِذَاشِئْتَ جَعَلْتَ الْحُزْنَ سَهْلاً.

**پوښتنه** : درسول اکرم صلی الله عليه وسلم په وخت کي دمدينې اوسېدوونکي په څه نوم يادېدل؟

**ځواب** : دانصارو په نوم.

**پوښتنه** : خلفاء راشدين څوک دي؟

**ځواب** :

۱:- ابوبکر صديق (رضی الله عنه) .

۲:- عمر فاروق (رضی الله عنه) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳:- عـــثمـــان غني (رضی الله عنه) .
۴:- علي المرتضی ( رضی الله عنه ) .

**پوښتنه**: هغه سړی چې د کعبې دورانولونيت يې درلود څه نومېدی ؟
**ځواب**: ابرهه حبشي.

**پوښتنه** : درسول اکرم صلی الله عليه وسلم په وخت کي په مدينه منوره کي کومو دوو قبيلوژوند کاوی؟
**ځواب**: اوس او خزرج.

**پوښتنه**: مسجد اقصی په کوم ځای کي دی؟
**ځوا ب**: په فلسطين کي چي اوس اسرائيلو غصب کړی دی.

**پوښتنه**: مسجد الحرام په کوم ځای کي دی؟
**ځواب**: په مکه مکرمه کي.

**پوښتنه**: کومو سورتونو ته (معوذتين ) وايي ؟
**ځواب**: الفلق او الناس ته.

**پوښتنه**: داودا سه فرضونه کوم دي؟
**ځواب**:
دمخ مېنځل.
ترمړوندو د دواړو لاسونو مېنځل.
د سرله څلورمي برخي څخه ديوې برخې مسح کو ل.
د دواړو پښو مېنځل.

**پوښتنه**: هغه کوم دري مسجدونه دی چي ليدل يې ثواب لري؟
**ځواب**:
مسجدالحرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجد النبي صلی الله علیه وسلم
مسجد اقصی

**پوښتنه** : دمسلمانانو لومړی قبله کومه وه؟
**ځواب** : بیت المقدس.
**پوښتنه** : عمرفاروق رضی الله عنه چاشهید کړ؟
**ځواب** : ابولولو ء مجوسي.
**پوښتنه** : مکه په کومه میاشت کي فتحه سوه؟
**ځواب** : دروژې (رمضان) په میاشت کي .
**پوښتنه** : دخندق دجګړې بل نوم څه دی؟
**ځواب** : احزب.
**پوښتنه** : کله چي میاشت نوې کېده نورسول اکرم صلی الله علیه وسلم به کومه دعاکوله؟
**ځواب** : (هِلَالٌ خَيْرٌ وَّرُشْدٌ آمَنْتُ بِاللهِ الَّذِي خَلَقَنِيْ).
**پوښتنه** : هغه کوم رسول وو چي الله جل جلاله دپسه په وسیله له حلالولو خلاص کړ؟
**ځواب** : اسماعیل علیه السلام .
**پوښتنه** : قیامت په کومه ورځ راځي؟
**ځواب** : دجمعې په ورځ.
**پوښتنه** : مدینې منورې ته چي دمسلمانانو ترهجرت وروسته لومړی کوم ماشوم پیدا سو هغه څوک وو؟
**ځواب** : عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما .
**پوښتنه** : په اسلام کي لومړی قاضي څوک وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب** : عمر بن الخطاب رضی الله عنه.

**پوښتنه** : د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د زوی ابراهیم د مـــورنوم څه وو؟

**ځواب** : ماریه قبطیه رضی الله عنها.

**پوښتنه** : مسلمانان په کومه میاشت کي حج کوي؟

**ځواب** : د ذی الحجې په میاشت کي.

**پوښتنه** : لومړی چا په په عربي ژبه خبري وکړې؟

**ځواب** : اسماعیل علیه السلام.

**پوښتنه** : د رسولانو وارثان څوک دي؟

**ځواب** : علماء.

**پوښتنه** : د مسلمانانو کومه ډله به ترټولو وړاندي جنت ته ځي؟

**ځواب** : بې وزله کډوال (مسکینان مهاجر).

**پوښتنه** : خلیل الرحمان د چا لقب دی؟

**ځواب** : د ابراهیم علیه السلام.

**پوښتنه** : هغه کال چي خدیجــه رضی الله عنها او ابوطالب پکي وفات سول په کوم نوم یادیږي؟

**ځواب** : د عام الحزن (غم کال.)

**پوښتنه** : په اسلام کي لومړنۍ فدایي مېرمن څوک وه؟

**ځواب** : اسماء بنت ابي بکر.

**پوښتنه** : چا په ښکاره ډول د کفارو په مخ کي قرآن کریم تلاوت کړ؟

**ځواب** : عبدالله بن مسعود رضی الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : آیا مسلمـــان کولای سي چـــي پنځه لمنځونه په یوه اوداسه وکړي؟

**ځواب** : هو کولای سي.

**پوښتنه** : که یو څوک داوداســه په ماتېدو کي شکمـــن وي او لمونځ وکړي ایا دالمونځ صحیح دی که نه؟

**ځواب** : هو !صحیح دی.

**پوښتنه** : کوم لمونځ چي تروخت مخکي وسي دهغه حکم څه دی؟

**ځواب** : دهرلمانځه لپاره وخت ټاکل سوی دی نو باید هرلمونځ پرخپل وخت وسي. که یو لمونځ ترخپل ټاکلي وخت مخته وسي نو دهغه سړي لمونځ نه سیي کیږي.

**پوښتنه** : آیا خوراک او څښاک اودس ماتوي؟

**ځواب** : نه !.

**پوښتنه** : په سفر کي دسهار لمونځ څو رکعته دی؟

**ځواب** : ۲ رکعته.

**پوښتنه** : په سفر کي دماپښین لمونځ څو رکعته دی؟

**ځواب** : ۲ رکعته.

**پوښتنه** : په سفر کي دمازېگر لمونځ څو رکعته دی؟

**ځواب** : دوه رکعته.

**پوښتنه** : په سفر کي دماښام لمونځ څو رکعته دی؟

**ځواب** :درې رکعته.

**پوښتنه** : په سفر کي دماخوستن لمونځ څو رکعته دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: دوه رکعته فرض سره له دوو رکعتو وتروخـــودا بايد په يادولرئ چي سنت لمونځ ترخپل ټاکلي مقدارنه کميـــږي که په سفرکي د سړي ډېرتلوارنه وي نو سنت بايد هرومرو پوره اداء کړي.

**پوښتنه** : دبدن هغه اووه ګوني غړي ، چي د سجدې په وخت کي بايد پر ځمکه کښېښودل سي کوم دي؟

**ځواب** :

- تندی او پوزه
- دلاسونو ورغوي.
- دواړه زنګونونه.
- ددواړو پښو قدمونه.

**پوښتنه** : دجماعت پروخت که مقتدي يو سړی وي نو بايد کومي خوا ته ودريږي ؟

**ځواب** : دامام راسته لاس ته.

**پوښتنه** : د جنازې دلمانځه حکم څه دی؟

**ځواب** : فرض کفايه.

**پوښتنه** : که په هېره دروژې په حالت کي يوشی وخوري نو دهغه روژه څنګه ده ؟

**ځواب** : روژه يې نه فاسديږي.

**پوښتنه** : په جماعت کي ترټولو غوره صف کوم صف دی؟

**ځواب** : لومړی صف.

**پوښتنه** : کورته دننوتلو دعاء کومه ده ؟

**ځواب** : بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَعَلَى رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : له کور څخه دوتلو دعاء کومه ده ؟

**ځوا ب** : بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ.

**پوښتنه** : د آذان په اوربدو سره باید څه وویل سي؟

**ځواب** : هغه څه چي مؤذن وايي، خوکله چي هغه (حی علی الصلاه ) او (حی علی الفلاح) وايي، نواوربدونکي باید ( لاحول ولاقوه الابالله ) ووايي.

**پوښتنه** : کله چي یو مصیبت پېښ سي نو څه باید وویل سي ؟

**ځواب**: (انا لله وانا الیه راجعون ).

**پوښتنه**: دروژه مات پروخت کومه دعا ویل کیږي؟

**ځواب**: ذَهَبَ الظَّمَاءُ وَابْتَلَتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْاَجْرُ اِنْ شَاءَ اللهُ

**پوښتنه** : ترركوع وروسته څه ویل کیږي ؟

**ځواب** : (سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ – رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ).

**پوښتنه** : له خوبه تر پا څېدو وروسته کومه دعاء ویل کیږي؟

**ځواب** : (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ )

**پوښتنه** : دناروغ دلیدو پرمهاکومه دعاء ویل کیږي؟

**ځواب** : (لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللهُ ).

پوښتنه: کله چي يوه غونډه يا مجلس پای ته رسیـږي کومه دعاء ویل کیږي؟

**ځواب** : (سبحانک اللهم وبحمدک اشهدان لااله الاانت استغفرک واتوب الیک )

**پوښتنه**: د ډوډۍ ترخوړلو مخکي څه ویل کیږي؟

**ځواب** : (بسم الله ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : دډوډۍ ترخوړلووروسته څه ويل کيږي؟

**ځواب** : (الحمدلله الذي اطعمني هذا ورزقنيه من غيرحول منى ولاقوه )

**پوښتنه** : چاته قوي انسان ويل کيږي؟

**ځواب** : هغه شخص چي دغوسې په وخت کي خپل ځان کنټرول کړي.

**پوښتنه** : دغوسې په وخت کي څه ويل کيږي؟

**ځواب** : (اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ).

**پوښتنه** : دپرچ په وخت کي څه ويل کيږي؟

**ځواب** : (اَلْحَمْدُ لله ) .

**پوښتنه** : کله چي دپرچ الحمدلله واورو په ځواب کي به يې څه وايو ؟

**ځواب** : ( يَرْحَمُکَ اللّٰهُ) .

**پوښتنه** : کله چي يو شخص په مصيبت کي وليدل سی څه ويل کيږي؟

**ځواب** : (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَافَانِیْ مِمَّا ابْتَلاکَ بِهِ وَفَضَّلَنِیْ عَلیٰ کَثِيْرٍ مِّنْ خَلْقٍ تَفْضِيْلاً ) .

**پوښتنه** : څوک چي ښه درسره وکړي څه به ورته وايې؟

**ځواب** : (جَزَاکَ اللّٰهُ خَيْراً ) .

**پوښتنه** : دالله جل جلاله نومونه څودي؟

**ځواب** : ۹۹ .

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي څو ځايه (بسم الله ) راغلي ده؟

**ځواب** : ۱۱۴ ځايه .

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دعيسی عليه السلام نوم څوځايه ذکرسوی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: ۲۵ ځايه.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي څو ځله د جنت ذکر سوی دی؟

**ځواب** : ۲۲ ځله.

**پوښتنه** : په قرآن شريف کي څو ځله د اور یادونه سوې ده؟

**ځواب** : ۱۳۲ ځله.

**پوښتنه** : د قرآن کريم د سورتونو شمېر څومره دی؟

**ځواب** : ۱۱۴ .

**پوښتنه** : قرآن کريم څو ټوکه (جزء) دی؟

**ځواب**: د برش ټوکه (۳۰ جزء).

**پوښتنه** : د قرآن کريم د تورو شمېر څومره دی؟

**ځواب** : ۳۴۰۷۴۰ .

**پوښتنه** : د قرآن کريم د آیاتونو شمېر څومره دی؟

**ځواب** : قرآن شريف ۶۶۶۶ آیاتونه لري.

**پوښتنه** : د قرآن کريم څو سورتونه په مکه معظمه کي نازل سوي؟

**ځواب** : ۸۶ .

**پوښتنه** : د قرآن کريم څو سورتونه په مدينه منوره کي نازل سوي؟

**ځواب** : ۲۸ سورې.

**پوښتنه** : د قرآن کريم سيد آيت څه نوميږي؟

**ځواب** : آية الکرسي.

**پوښتنه** : د قرآن کريم تر ټولو غټه کلمه کومه ده؟

**ځواب** : (ليستخلفنهم) (د نور سورة، **۵۵** مه آيه).

**پوښتنه** : هغه توری چي د قرآن کريم په منځ کي راغلی کوم دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب** : د (فا ) توری په وليتلطف کي کارول سوی ( کهف سوره ، ۱۹مه آیه ).

**پوښتنه** : ام القرآن کوم سورت دی؟

**ځواب** : فاتحه (الحمد لله ).

**پوښتنه** : د قرآن کريم منځنی سورت کوم دی؟

**ځواب** : دالزلزله سوره.

**پوښتنه** : د قرآن کريم کوم سورت د(سنام القرآن ) لقب لري؟

**ځواب** : بقره.

**پوښتنه** : کوم سورت د قرآن کريم د زړه (قلب) په لقب مشهور دی؟

**ځواب** : يسين.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي د کومو ښارونو نومونه ذکر سوي دي؟

**ځواب** : د مصر، بابل، مکه، مدينه، مدين، مأرب، قدس، سيناء.

**پوښتنه** : ځينـــي هغه شمېرې چي په قرآن کريم کي ذکر سوي نومونه يې واخلئ !.

**ځواب** : ۱، ۳، ۴، ۷، ۱۱، ۱۲، ۱۸، ۱۹، ۱۰۰، ۲۰۰، ۱۰۰۰، ۲۰۰۰، ۵۰۰۰۰.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي د کومو ونو يادونه سوې ده؟

**ځواب** : د سدر ، نخل او زيتون.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي د کومو مېوو ذکر راغلی دی؟

**ځواب** : د انار ، انځر او خورما.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي د کومو قبېلو نومونه راغلي؟

**ځواب** : د قريش ، عاد او ثمود.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي د کومو حيوانانو يادونه سوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: داوښ ، فيل ، خره ، غوا ، لېوه ، چونګښي او خنځير.

**پوښتنه** : په قرآن کريم دکومو خزندو يادونه سوې ده؟

**ځواب** : دمچ مچۍ ، مېږي، غوماشي ، غنې ، مچ ، ملخ او شپږي.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دکومو مرغانو يادونه سوې ده؟

**ځواب** : دچوغکي، ببوکي ، ځيږکي او شاهين.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دکومو غلو يادونه سوې ده؟

**ځواب** : دغنم او دال.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دکومو موسمونو يادونه سوې ده؟

**ځواب** : دژمي او دوبي.

**پوښتنه** : په قرآن کريم داونۍ دکومو ورځو يادونه سوې ده؟

**ځواب** : دشنبې او جمعې.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دکومو معادنو او فلزاتو يادونه سوې ده؟

**ځواب** : دسروزرو ، سپينوزرو ، او سپيني او فولادو.

**پوښتنه** : په قرآن کريم دکومو وسيلو يادونه سوې ده؟

**ځواب** : دپيمانې ، ترازو ، ښيښې ، بوټي ، چاکو او دروازې.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دکومو طرفونو يادونه سوې ده.

**ځواب** : دختيځ او لويديځ.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دکومو رنګونو يادونه سوې دځينو نومونه واخلئ !.

**ځواب** : دسپين ، تور او زرغون.

**پوښتنه** : محمد صلی الله عليه و سلم په پرکوم وخت دې نړۍ ته سترګي پرانيستې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب** : ددوشنبې په ورځ ، دربيع الاول پر۱۲ دعام الفيل په کال. (**۵۷۰** ميلادي.)

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دکوم صحابي نوم په ښکاره ډول ياد سوى دى؟

**ځواب**: دزيد بن حارثه رضى الله عنه.

**پوښتنه** : دمديني منورې لقبونه کوم دي؟

**ځواب** :

- طيبه.
- مدينة الرسول.
- المدينة المنوره.

**پوښتنه** : رسول الله صلى الله عليه وسلم لومړى کوم مسجد جوړکړ؟

**ځوا ب**: مسجد قباء.

**پوښتنه**: په مسجد قباء کي دلمانځه کولو ثواب څومره دى؟

**ځواب** : ديوې عمرې په اندازه.

**پوښتنه**: کوم ځاى ته حرمين شريفين ويل کيږي؟

**ځواب**: مسجد النبي (درسول الله جوما ت) ، مسجد الحرام ته.

**پوښتنه**: په مسجد النبي کي ديوه لمانځه ثواب څومره دى؟

**ځواب**: دزرو لمنځونو.

**پوښتنه** : په مسجد الحرام کي يو لمونځ څومره ثواب لري؟

**ځواب** : دسلوزرو لمنځونو .

**پوښتنه** : په مسجد اقصى کي يو لمونځ څومره ثواب لري؟

**ځواب** : د**۵۰۰** لمنځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : دمکې مکرمې نومونه کوم دي؟

**ځواب** :

- ام القرى
- مکه
- بلدالامن

**پوښتنه** : کليم الله دچا لقب دی؟

**ځواب** : دموسی عليه السلام.

**پوښتنه** : محمدصلی الله عليه څو عمرې ترسره کړي دي؟

**ځواب** : ۴ عمرې.

**پوښتنه** : په اخرت کي له انسان څخه لومړی دکوم عمل پوښتنه کيږي؟

**ځواب** : دلمانځه.

**پوښتنه** : د هجري کال لومړی میاشت څه نوميږي؟

**ځواب** : محرم.

**پوښتنه** : په اخرت کي لومړی له کوم امت سره حساب اوکتاب کيږي؟

**ځواب** : دمحمدرسول الله صلی الله عليه وسلم له امت سره.

**پوښتنه** : لومړی رسول څوک دی؟

**ځواب** : نوح عليه السلام اولومړی نبي آدم عليه السلام دی.

**پوښتنه** : آدم عليه السلام په کومه ورځ پيدا سو؟

**ځواب** : دجمعې په ورځ.

**پوښتنه** : چالومړی قتل وکړ؟

**ځوا ب** : قابل.

**پوښتنه** : ابوالبشر دچا لقب وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب** :دآدم عليه السلام .

**پوښتنه** : دآدم عليه السلام قد څومره وو ؟

**ځواب** : ۶۰ شرعي گزه .

**پوښتنه** : حوا رضی الله عنها څنگه پيدا سوه ؟

**ځواب** : دآدم عليه السلام له بغل څخه، داسي چي آدم عليه السلام يې هيڅ ډول احساس هم ونه کړ.

**پوښتنه** : ولي په حوا ونو مول سوه؟

**ځواب** : ځکه له حی څخه پيدا سوه او حی آدم و.

**پوښتنه** :رسول اکرم صلی الله عليه و سلم اوآدم عليه السلام دمعراج په شپه په کوم ځای کي سره وليدل ؟

**ځواب** : ددنيا په آسمان کي.

**پوښتنه** : په قرآن کريم کي دآدم عليه السلام يادونه څو ځله سوې ده؟

**ځواب** : پنځويش ځله.

**پوښتنه** :قران کريم چا پرد برشو برخو يا سپارو و بشلی دی؟.

**ځواب** :عثمان رضی الله عنه.

**پوښتنه** : دقران کريم آيتونه پرڅو ډوله دي؟.

**ځواب** : پرلس ډوله.

**پوښتنه** : دايت لغوي مانا څه ده؟.

**ځواب** : دنښې يا علامې په مانادی.

**پوښتنه** : دقران کريم په کوم سورت کي د ميم(م) توری ښځي نه سته ؟

**ځواب** : په انا اعطينک کي.

**پوښتنه** :په کوم سورت کي يوازي يو زبر دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب** : په سورت اخلاص قل هوالله کي.

**پوښتنه** : په کوم سورت کي (بسم الله الرحمن الرحيم) دوه ځله راغلې؟

**ځواب** : په سورت نمل کي.

**پوښتنه**: د قران کريم هغه سورت چي په (بسم الله الرحمن الرحيم) نه دی پيل سوی کوم دی؟

**ځواب** : دتوبې سورت (سورت التوبه).

**پوښتنه**:سورت الجمعه په کومه سپاره کي دی؟

**ځواب** : په اته ويشتمه سپاره کي.

**پوښتنه** : د قران کريم کوم سورت ته دکتاب مور(ام الکتاب) وائي؟

**ځواب** : دفاتحې سورت (الحمد الله) ته.

**پوښتنه** : په قران کريم کي تر ټولو اول د کوم پيغمبرنوم راغلی دی؟

**ځواب**: دادم(عليه السلام).

**پوښتنه**: چار( قل) څه ته وايي؟

**ځواب** :هغو څلورو سورتونو ته چي په (قل) پيليږي.

**پوښتنه** : هغه سورتونه چي دنبيانو په نومونو پيليږي کوم دي؟

**ځواب** :

- سورت ابـراهيم (ع).
- سورت نـــوح(ع).
- سورت يـونس(ع).
- سورت يـوسف(ع).
- سورت هــود(ع).
- سورت محمد (ع).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه**: په قران کريم کي د کوم ښار په نامه سورت سته ؟
**ځواب**: د روم په نوم (سورت روم).
**پوښتنه** : هغه توريوته چي پر مانايې له الله جل جلاله اورسول صلی الله عليه وسلم پربل څوک نه پوهيږي څه وايي؟.
**ځواب** : حروف متشابهات يا حروف مقاطعات.
**پوښتنه**:د کوم سورت په اوريدو عمررضی الله عنه مسلمان سو ؟
**ځواب**: د سورت (طه) په اوريدو .
**پوښتنه** :په کوم سورت کي د نوح عليه السلام عمر(۹۵۰) کاله ښودل سوي دی؟
**ځواب**: په سورت عنکبوت کي.
**پوښتنه** : پررسول اکرم صلی الله عليه وسلم ټول قران کريم په څومره وخت کي نازل سو؟.
**ځواب**: په ۲۲ کاله ينځه مياشتي او څوارلس ورځو کي.
**پوښتنه**: قران کريم په کومه ژبه نازل سوی دی؟
**ځواب** : په عربي ژبه.
**پوښتنه** : پررسول اکرم صلی الله عليه وسلم دقران کريم نزول په کومه مياشت کي پيل سو؟.
**ځواب** : په روژه(رمضان) کي.
**پوښتنه**: په قران کريم، کي دکوم پيغمبر يادونه ترټولو ډيره سوې ده؟
**ځواب** : دموسی عليه وسلم ده نوم په قران کريم کي يوسل او اته ويشت واره راغلی دی.
**پوښتنه** : په قران کريم کي څوځله دلمانځه د اداء کولوحکم سوی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: اووه سوه ځله.

**پوښتنه**: ترآدم علیه السلام وروسته څوک نبي سو؟

**ځواب** : شيث علیه السلام .

**پوښتنه**: چالومړی په قلم ليکنه وکړه ؟

**ځواب** : ادريس علیه السلام.

**پوښتنه** : رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دمعراج په شپه له ادريس علیه وسلم سره چيرته وليدل ؟

**ځواب** : په څلورم آسمان کي.

**پوښتنه** : په ځمکه کي لومړی رسول څوک وو ؟.

**ځواب** : نوح علیه السلام .

**پوښتنه**: د نوح علیه السلام دقوم (قبيلې) نوم څه وو؟

**ځواب**: بنوراسب.

**پوښتنه**: سيدالمرسلين د چا لقب دی ؟

**ځواب**: دنوح علیه السلام.

**پوښتنه**: پرنوح علیه السلام څوکسانو ايمان راوړ؟.

**ځواب** : ابن عباس رضی الله عنهما وايي :اتيا کسانو چي مېرمني يې هم ورسره وې.

**پوښتنه**: دنوح علیه السلام کوم زوی دايمان نه راوړوله کبله غرق سو؟

**ځواب**: کنعان .

**پوښتنه**: دهود علیه السلام دقوم نوم څه وو؟.

**ځواب**: عادارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه** : هغه بتان څه نومېدل چي د هودعليه السلام قوم يې عبادت کاوه ؟

**ځواب** : صمدا ، سمورا اووهرا .

**پوښتنه** : هود عليه السلام په کومه سيمه کي نبي وو ؟

**ځواب** : احقاف ( چي دعمان په شمالي برخه کي پرته ده ) .

**پوښتنه** : په قران کريم کي څوځله دهودعليه السلام يادونه سوې ده؟

**ځواب** : ځلورځله.

**پوښتنه** : دهود عليه السلام قبيله په څه شي له منځه ولاړه؟

**ځواب** : اوه شپې اوورځي پرله پسې دتېزبادونو په وسېله له منځه يو وړل سوه.

**پوښتنه** : د صالح عليه السلام دقبيلې نوم څه وو ؟

**ځواب** : ثمود .

**پوښتنه** : دصالح عليه السلام قوم له هغه څخه دڅه ډول معجزې غوښتنه کړې وه؟

**ځواب** : ديوداسي اوښې چي له ډبري راووزي.

**پوښتنه** : چاده صالح عليه السلام اوښه مړه کړه؟

**ځواب** : قداد بن سالف.

**پوښتنه** : دثمودقوم په څه ډول عذاب اخته سو ؟

**ځواب** : په صاعقه ( تالنده اوبرېښنا = رعد وبرق ) .

**پوښتنه**: ابوالانبيا دچا لقب وو ؟

**ځواب** : دابراهيم عليه السلام.

**پوښتنه** : دسيدنا ابراهيم عليه السلام کنيه نوم څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځوا ب** : ابو الضيفان.

**پوښتنه** : ابراهيم عليه السلام چيري پيدا سوی دی؟

**ځواب** : دبابل په ښارکي.

**پوښتنه** : دابراهيم عليه السلام په وخت کي پاچا څوک وو ؟

**ځواب** : نمرود بن کنعان.

**پوښتنه** : ابراهيم عليه السلام اول له کومي ښځي سره واده وکړ؟

**ځواب** : داسحاق عليه السلام له مور ساره رضی الله عنها سره.

**پوښتنه** : دابراهيم عليه السلام قبرپه کوم ځای کي دی؟

**ځواب**: په الخليل ښارکي.

**پوښتنه**: کوم رسول دخپل وخت دماليې وزيروو ؟.

**ځواب** : يوسف عليه السلام.

**پوښتنه**: کوم پيغمبراوس هم ژوندی دی؟

**ځواب** : عيسی عليه السلام.

**پوښتنه**: کوم پيغمبر بندي سو ؟

**ځواب** : يوسف عليه السلام.

**پوښتنه** : دکوم پيغمبر لقب ذوالنون وو ؟

**ځواب** : ديونس عليه السلام .

**پوښتنه** : له کوم پيغمبرسره غرونو تسبيح ويلې؟

**ځواب**: له داوود عليه السلام سره.

**پوښتنه** : خطيب الانبياء دکوم پيغمبر لقب دی؟

**ځواب** : دشعيب عليه السلام .

**پوښتنه** : روح الله او کلمة الله دکوم پيغمبر لقب دی؟

